ليکوال: هاري
۲۰۰۹/۹/۸

# د افغانستان ساده حل

ښاغلي احمد رشيد د واشنګټن پوسټ په ورځپانه کي د سپتمبر پر ۶ مه د افغانستان د رواني انتخاباتي رسوايي او بحران په باب يوه مفصله مقاله ليکلي ده چي دلته يي نسبتا پوره ترجمه ګورئ. ښاغلي احمد رشيد پاکستانی ژورناليسټ او ليکوال دی چي نه يوازي په سيمه کي بلکي په ټوله نړۍ کي يو منل سوی سياسي تحليلګر دی. هغه د افغانستان او سيمي په باب ځو مشهوره کتابونه ليکلي دي چي د «طالبان» په نامه کتاب يي بين المللي شهرت پيدا کړی دی.

د ۱۹۷۹ د شوروي تر اشغال پخوا، افغانستان يو باثباته خو غريب ملک وو، او له خپلو ګاونډيانو سره يي په سوله کي ژوند کاوه. د ۱۹۷۰ په کلونو کي چي ما تل افغانستان ته سفرونه کول ، هلته يو پاچا او يو واقعي حکومت چلېده. زما په ګومان هله افغانستان يو حداقل او يا کوچنی حکومت لاره. نه د هند او پاکستان په شان چي له انګريزانو څخه ورته غټ او قوي حکومتونه پاتي ول.

د حکومت همدا کوچنيوالی د يوه غريب او بېوزلي افغانستان لپاره مناسب او برابر وو. د افغانستان نفوس کم، طبيعي منابعي يي لږ، او د داسي مختلفو اقوامو کور دی چي د غرونو او راغونو په وجه يو له بل سره چندان اړيکي نلري، اوهر يو پخپله دره او کلي کي منزوي ژوند کوي. په تاريخي لحاظ، د افغانستان مرکزي حکومت دونه قوي وو چي امنيت يي ساتلای سوای، خو دونه غښتلی نوو چي د اقوامو خودمختاري او ازادی ته دي چلنج ورکړي.

هله افغانستان د عصري کېدو خيال نه لاره، او نه يي هم د يو سيمه ايز طاقت د کېدو شوق لاره. د افغانستان اقتصاد بدوي وو، خو لوږې او قحطی ځوک نه وژل. که څه هم کرهڼه موسمي او بدوي وه، خو هر چا يو کار او روزګار درلود. يوه وړه مينځنی طبقه موجوده وه، خو د خان او مسکين تر مينځ توپير زيات نه وو. هله نه ړېره ورو اسلامي افراطيانو نخرې کولې، نه هم حکومت د مخدره موادو په قاچاق کي لتاړ وو، او نه هم د نارکو سټېټ له سپکاوي ډک نوم پرې پروت وو.

په ۲۰۰۲ کي ما ښه ډېر وخت په واشنګټن کي تېر کړ، او هلته مي د بش حکومت دېته هڅوی چي په افغانستان کي حداقل او يا کوچنی حکومت جوړ کړي کوم چي ديرش کلن جنګونو کاملا تباه کړی وو.

اوس موږ ټول پوهېږو چي څه وسول. د بش اداري د افغانستان کار نيمګله پرېښود، او هرڅه يي (سي اي ې) او جنګسالارانو ته خوشي کړل، او د عراق د اشغال په شوق وخوځېد.

سمدستي القاعدي او طالبانو درک کړل چي ښاغلی بش د افغانستان په باب جدي ندی. هغوی بېرته افغانستان ته راشوه سول. طالب ياغيان د ۲۰۰۳ په دوبي کي دلته او هلته راښکاره سول، د هېواد پراخي سيمي يي تر خپل کنټرول لاندي کړې، او د مخدره موادو د قاچاقو په پيسو يي خپل ملګري مسلح کړل، او دونه قوي سول چي اوس د متحده ايالاتو د پوځ لوی درستيز حالات «جدي او مخ پر خرابېدو» بولي.

دمګړی، د افغانستان لپاره د يوه حداقل او کوچنی حکومت جوړول هر کال له ۱۰ څخه تر ۱۵ بيلونو ډالرو پوري لګښت لري، سربېره پردې په زرهاوو نورو غربي عسکرو ته هم اړتيا سته چي عامه غربيان يي مخالف دي. په افغانستان کي امريکايي قومندان، جنرال مک کريسټل، به د نورو عسکرو غوښتنه وکړي، خو د هغه ټولي غوښتني به پوره نه سي.

نن سبا، په واشنګټن کي دامريکايي مقاماتو تر مينځ د افغانستان په باب جنګ او نادرې رواني دي. ځيني د اوباما پلان ته د شک په سترګه ګوري. امريکايان په زياتېدونکي توګه د افغانستان جنګ عبث ګڼي، اوبلخوا د ناټو ملګري د شا تر دروازې خپ خپ وځي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

په واشنګټن کي، ځيني سياسي مبصرين لکه جورج ويل ټينګار کوي چي افغانان د زدکړي ذهني استعداد نلري. مانا دا چي هغوي نه غواړي يو عصري دولت جوړ کړي. نور مبصرين لکه د برتانيې پخوانی ډيپلومات روري ستيوارډ استدلال کوي چي افغانان بايد يوازي پرېښودل سي چي خپل مشکل پخپله فيصله کړي. مګر همدا نقادان د بش ناکاميو ته سمه توجه نه کوي. د بش بدو پاليسيو ننني ستونزي راپيدا کړي دي. تر ټولوبده لا دا چي دوي هيڅ د حل لاره نه ښيي.

اوس نو، څه بايد اوسي؟ لمړی، عامه امريکايانو او اروپايانو ته بايد حقيقت او رشتيا وويل: هغه داچي پدې تېرو اتو کلونو کي امريکا او ناټو په افغانستان کي ناکامه سويدي، او د يوه حداقل او کوچيني حکومت د جوړولو يوه برخه يې لا هم نده تکميل کړې. د مثال په توګه، د بيلونهاوو ډالرو سره سره، کابل يوازي سر کال څه منظم برق پيدا کړ. د کرهني لپاره په ميلونهاوو ډالره د کشميري بزو پر تربيې او د مځکني توت د رواجولو پر عبثو او د خندا وړ پر پروژو باندي لګېدلي دي.

د امريکا او اروپا حکومتونه مجبوره دي چي خپلو خلکو ته ووايي چي القاعده او ټروريستي تهديدونه لا ډېر سوي دي او القاعده افريقا او اروپا ته غزېدلې ده.

دوهم، په افغانستان کي د حداقل حکومت جوړول بايد په بېړه پيل سي. جمهورريس اوباما پدې ښه پوهېږي. اقلا د ښاغلي اوباما پلان - البته د کاغذ پر مخ- پر کرهني، د نويو کارونو پر خلقولو، او د عدالت پر ټينګولو باندي ټينګار کوي. مګر ايا هغه ته به دونه وخت ورکړه سي چي خپل پلان عملي کړی؟

د اوباما حکومت دوه يا درې کالو ته اړتيا لري چي خپل پلان عملي کړي. نو بنا، د جمهورريس لمړی دنده دا ده چي امريکايان او کانګرس پدې قانع کړي چي هغه ته کافي وخت ورکړي.

دريېم، ياغيان به تر هغه وخت پوري مات نه سي، تر څو هغوي د پټېدو او سبب مطمين ځايونه لري. په ۲۰۰۱ کي پراري طالبانو ته په پاکستان کي هرکلی وويل سو. د پاکستان منطق دا دی چي طالبان په افغانستان کي د هند دزياتېدونکي نفوذ په مقابل کي کاروي.

بش هيڅکله پر پرويز مشرف باندي فشار را نه وست چي طالبان راايسار کاندي. نن سبا، اسلام اباد د ملکي حکومت او پوځيانو تر مينځ په نوسان کي دی. خو ملکي حکومت ورځ په ورځ کمزوری او بې اعتباره کېږي، او د اردو قدرت شبيه په شبيه ډېرېږي. که څه هم د پاکستان پوځ، لږ او ډېر، د طالبانو پر خلاف جنګ روان کړی دی، خو تر اوسه پوري يې په ستراتيژيکي لحاظ د طالبانو او القاعدې پر خلاف جدي تصميم ندی نيولی.

څلرم، د يوه حداقل او کوچيني حکومت د جوړولو لپاره افغان ملګري حياتي اهميت لري. له بده مرغه، بش دا مهمه مسله هم هېره کړې وه. بش يوازي حامدکرزی ساتی، او هيڅ ډول سختي پوښتني يې تری نه کولی. په عين زمان کي، د حامد کرزي حکومت په اداري فساد او مخدره موادو کي ډوبېدی.

د اګست ۲۰ مي په انتخاباتو کي ښکاره تقلب او بېساري ټګي برګي افغانستان يو بل سياسي او قانوني بحران ته ور ټېله کړ چي اوس نه متحده ايالات او نه هم ملګري ملتونه کوم جواب او يا حل ورته لري. په انتخاباتو کي جعل کاري هله ببخي ډاډه سوه چي څو مياشتي مخکي حامد کرزي د هغو جنګسالارانو، د مخدره موادو قاچاقبرانو، او محلي جنايتکارانو سره ايتلافونه وکړل کومو چي باور درلود چي د حامد کرزي په بايلات کي به خپل ټول نامشروع قدرت او د لوټ او تالان فرصت له لاسه ورکړي.

د دغه سياسي کثافت سره سره، دا به ډېره مشکله وي چي يو با اعتباره افغاني انډول او ملګری پيدا کړو، مګر دا کار بايد وسي. امريکايان مجبوره دي چي حامد کرزی دېته اړباسي چي په حکومت کي ټول مهم سياسي رقيبان شامل کړي. پرته له يوه افغاني انډول او ملګري څخه متحده ايالات حتما په اشغالګر قوت بدلېږي. ښکاره خبره ده چي افغانان به د اشغالګرو په مقابل کي وجنګيږي.

خو د اوباما حکومت لدې باتلاقه څخه سالم راوتلای سي پدې شرط چي خپل توقعات او اهداف ښه ډېر راکښته کړي. اوباما مجبوره دي چي بد خلک او جنګسالاران په نښه کړي، سيمه ايز توافق او همکاري ايجاد کړي، امريکايان پخپل


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

ښځي کې وساتي، او افغانوته هغه څه برابر کړي چې هغوی يې کول غواړي، او هغه داچي افغانان د نورو ښي ادمانو په شان د يوه ارام او ښه ژوند چانس او فرصت غواړی.

متحده ايالات د يوه حداقل او کوچني حکومت له جوړولو څخه پرته بله هيڅ چاره نلري . بل هيڅ شی به القاعده او طالبان په سيمه او نړۍ کې له تباه کاريو او ترووريزم څخه را ونه ګرځوي.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de